PRINCE WILLIAM COUNTY PUBLIC SCHOOLS
LAUNCHING THRIVING FUTURES

۱۴ سپتمبر، ۲۰۲۶

ګرانو والدینو او سرپرستانو،

ستاسو ماشوم په دې وروستیو کې د Renaissance Star لوست ارزونه ترسره کړې ده. ستاسو د ماشوم ښوونکی د دې ارزونې پایلې د لوست په مهارتونو کې د عمومي لاسته راوړنو د اندازه کولو او د زده کړې د اړتیاوو پیژندلو لپاره کاروي. اړینه ده چې پوه شئ، دغه نمرې یوازې یو انځور وړاندې کوي چې ستاسو ماشوم د لوست په برخه کې څنګه پرمختګ کوي. که تاسو کومه پوښتنه لرئ، مهرباني وکړئ د خپل ماشوم له ښوونکي سره اړیکه ونیسئ.

د والدینو د Star ارزونې راپور سربېره چې له دې لیک سره یو ځای دی، لاندې معلومات به ستاسو د ماشوم د نمرو او فعالیت په اړه لا ډېر وضاحت او معلومات وړاندې کړي.

**سنجول شوې یا درجه بندی شوی نمرې**
سنجول شوې یا درجه بندي شوې نمرې د وخت په تېرېدو او په بېلابېلو ټولګیو کې د زده کوونکو د فعالیت پرتله کولو لپاره ګټورې دي. درجه بندي شوې نمرې د پوښتنې د ستونزمنتیا کچې او د سمو ځوابونو د شمېر په پام کې نیولو سره محاسبه کېږي. د بېلګې په توګه، د Star لوست په ازموینه کې د ۸۸۹ نمرې اخیستل د دې معنی لري چې دا نمرې په دویم ټولګي کې د ۷۷٪ زده کوونکو له نمرو لوړې دي او د کال په دې وخت کې د دویم ټولګي د یوه عادي زده کوونکي له کچې سره برابره ګڼل کېږي.

**د فیصدی درجه / رتبه**
د فیصدۍ درجه یا رتبه له ۱ څخه تر ۹۹ پورې وي او د یوه زده کوونکي فعالیت په ټول هېواد کې د هماغه ټولګي له نورو زده کوونکو سره پرتله کوي.

**د ټولګي معادل**
د ټولګي معادل نمرې ښيي چې د ماشوم فعالیت د هېواد په کچه د نورو زده کوونکو له فعالیت سره څنګه پرتله کېږي. د بېلګې په توګه، د لومړي ټولګي یو زده کوونکی چې ۲.۳ معادل نمرې ولري، د ښوونیز کال له درېیمې میاشتې وروسته یې د دویم ټولګي د یوه عادي زده کوونکي په کچه فعالیت ښکاره کړی دی. دا نمرې حتماً په دې معنی نه دی چې زده کوونکی د دویم ټولګي د کارونو کولو وړتیا لري؛ بلکې دا کار دا په ګوته کوي چې د دغه زده کوونکي مهارتونه د لومړي ټولګي له اوسطی اندازی څخه لوړ دي.

**د لوست تدریسی کچه**
د لوست تدریسي کچه د ټولګي هغه کچه ده چې پکې یو زده کوونکی په ټولګي کې د کلمو په پېژندلو او د درسي موادو په درک او پوهېدو کې لږترلږه ۸۰٪ وړتیا (مهارت) لري.

**د نږدې پرمختګ برخه یا ساحه**
د نږدې پرمختګ ساحه (ZPD) هغه مناسبه کچه ده چېرته چې زده کوونکي په خپلواکه توګه لوستل کولای شي ترڅو په لوستلو کې تر ټولو ښه وده او پرمختګ وښايي.

Student Learning Department
703-791-8990Box 389, Manassas, VA 20108 • www.pwcs.edu • .P.O

**تاسو څرنګ کولی شئ چې د خپل ماشوم د زده کړې څخه ملاتړ وکړئ؟**

1. هغو سرچینو ته مراجعه وکړئ چې د PWCS او د ویرجینیا د ښوونې او روزنې څانګې لخوا د والدینو لپاره برابرې شوې دي.
   - د انګلیسي ژبې د هنرونو د تدریس په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ د انګلیسي ژبې د زده کړې او سواد اموزۍ پروګرام ته مراجعه وکړئ.
   - د VDOE لخوا د وړاندې شویو ازموینو او سرچینو په اړه د اضافي معلوماتو لپاره https://www.doe.virginia.gov/parents-students/parent-resources/assessment ویب پاڼې ته لاړ شئ.

2. د خپل ماشوم له ښوونکي سره اړیکه ونیسئ ترڅو په دې اړه لا ډېر معلومات ترلاسه کړئ چې څنګه کولی شئ له کوره د هغه ملاتړ وکړئ. لاندې ځینې هغه پوښتنې دي چې تاسو پوښتلی شئ:
   - زما ماشوم په کومو مهارتونو کې لا زیات ملاتړ ته اړتیا لري؟
   - زه څرنګ کولی شم په کور کې د دغو مهارتونو څخه ملاتړ وکړم؟
   - آیا د ټولګي داسې نورې ارزونې شتون لري چې زه ورڅخه باید خبر یم ترڅو ما سره زما د ماشوم د پرمختګ په اړه په پوهېدو کې مرسته وکړي؟